# المسد

**مکی سورة دی ۵ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ١

**مات او تباه دې وی د ابولهب لاس( تول هغه شوم پلانونه چې د اسلامی دعوت د ناکامولو لپاره يې په کار اچول) او تباه دې وی دی پخپله هم.**

مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ٢

**مال او اولاد( ثروت او اقتدار) به دی له (الهی عذاب نه) خلاص نه کړی شی.**

سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ٣

**او زر ده چې يو لمبو وهونکی اور ته به وروغورځول شی.**

وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ٤

**او ښځه به يې هم( ورسره په اور کې وی) هغه چې خس خاشاک راټولوی( او د پيغمبر د تګ راتګ په لاره کې يې د هغه د اذيت لپاره غورځوی او هم په چغلی او هيزم کشی سره د خلکو ترمنځ د نفاق او بدبينی اور بلوی).**

فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ٥

**د هغې په (ګاڼه مزينه) غاړه کې به کلکه اوسپنيزه رسی واچول شی( ځکه دې ښځې به پخپل قيمتی اميل فخر کاوه او ويل به يې چې د دې جواهرو پيسې به د محمد صلی الله عليه و سلم د دعوت د ناکامی په لار کې قربانی کړم).**

**« تمت سورة المسد بفضل الله و عونه»**

**====================**